# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## هغه ورځ چې ما کور د ښار لپاره پرېښود!

Lesley Koyi, Ursula Nafula
Brian Wambi
Darakhte Danesh

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

# هغه ورځ چې ما کور د ښار لپاره پرېښود!



Lesley Koyi, Ursula Nafula
Brian Wambi
Darakhte Danesh

3

پښتو ps




زموږ په کلي یو کوچنی تم ځای و، چې ګڼو
خلکو او بار موټرو سره به تل دا ځای مشغول
وو. د ملي بس کلینډر هم د هغو ځایونو
نومونه په لوړ غږ اخیستل چیرته چې به یادې
موټرې تللې.




“ښار! ښار! لويديځ ته ځو!” ما د کلينډرغږ
واورېده. دا هغه ملی بس و چې ما غوښته.




د ښار ملی بس تقریبا ډک وه، مګر نورو خلکو
تر اوسه هڅه کوله چې ملی بس ته جګ شي.
ځینو خلکو خپله د سفر توکي د ملي بس
لاندې ځای پر ځای کړي وو. او ځینو نورو خلکو
د قفس دپاسه موټر منځ کې اېښې وو.





زما لپاره تر ټولو مهمه دا وه، چې د خپل کاکا
کور پیدا کړم او ملي بس هم په ډکېدو و چې د
ختیځ لور ته حرکت وکړي.




. نویو مسافرو ټکټونه اخیستي و او د
کنښېناستلو لپاره یې ځایونه لټول، د میرمنو
سره ماشومان هم و او د اوږده سفر لپاره یې
ځانونه چمتو کړي وو.






د نهه ساعتونو سفر کولو وروسته ، له خوبه
راپاڅېدم او خپله کوچنۍ بکسه مې
راواخیسته. له ملي بس څخه ښکته شوم.
نویو مسافرو باندې مې غږ وکړ چې زما کلي
ته لاړ شئ.



ما د یوې کړکۍ ترڅنګ خپل ځان ځای پر ځای
کړ. هغه کس چې زما خواته ناست و، شین
رنګه پلاستیکی کڅوړه یې کلکه نیولې وه. هغه
زړې څپلۍ په پښو کړې وې، زوړ جاکت یې و
او په غوصه یې کتل.





په لاره کې د هغې سیمې نوم مې په ذهن
راوستلو چې زما کاکا په هغه لوی ښار کې
ژوند کاوه. ما تر هغه وخته د هغې سیمې نوم
له ځان سره تکرارولو چې خوب راغئ.



. ما د ملي بس له کړکۍ بهر کتل او په دې
فکر کې وم، چې هغه کلی پرېږدم، چیرته چې
ما خاپوړې کړې دي او لوی ښار ته روان یم.





مګر زما فکر د کور په لور ولاړه. ایا زما مور به
خوندي وي؟ ایا زما سوی به پیسې ګټي؟ ایا
زما ورور به په یاد ولري چې ونو ته اوبه
ورکړي؟



موټر ډک شو او لاس پلورونکو لا هم هڅه
کوله چې پر مسافرینو ځینې توکي وپلوري، او
له دې سره به یې په لوړ غږ چغې وهلې. ماته
دا غږونه ډېر جالب و.





کله چې مو په سفر کې څه وخت تېر شو،
ملی بس دننه ډېر تود شو. ما خپلې سترګې
پټې کړې او د خوب په تمه وم.



ځینو مسافرو د څنباک توکي واخیستل،
ځینو بیا نور شیان واخیستل، او زما په څېر
چې چا به پیسې نه درلودې غلی ناست وو او
یوازې نندارې یې کولې.





څنګه چې ملی بس تم ځای پرېښود، ما له
کړکۍ څخه بهر ولیدل. ما ځان سره فکر وکړم،
چې کله به خپل کلي ته را ستون شم.



دا کارونه د ملی بس د حرکت د ځانګړي غږ سره پای ته ورسېدل، دا غږ په دی معنی و چې مونږ نور حرکت کوو، او دا ځای خوشې کوو. کلینډر لاس پلورونکو ته زاری کولې چې کښته شي.





لاس پلورونکو یو بل ټېله کول، ترڅو د ملي بس څخه کښته شي. بعضو مسافرو ته پاتې شوې روپۍ ورکولې. نورو په وروستۍ شېبه کې هڅه کوله چې نور توکي وپلوري.